پوهندی دوکتور سیدحسام «مل»

-----------------------------------------

# دمافیا تاریخی منشا ته یوه کتنه

پیل : ماته هم لاتر دی لیکنی پوری د مافیا د منشا او دهغه د رامینځته کید و اصلی ریښی پوره څرګند نه وه ،نو په دی وجهه ومی غوښتل چي پردغه پد یدی با ندي ماخذونو ،مقالو اود یوشمیر څیړونکو مقا لی او دهغوتحقیقاتی پا نو اواثارو په د لوستلو په رڼا کی خپل ترلاسه شوی معلومات د تاسومحترمولوستونکو سره شریکه کړم ، اودا ځکه چي زمونږ په ګران افغانستان کی داوسنی رژیم چارواکی او جنګسالاران چي په ډیره لنډه موده کی وروسته دواک د ترلاسه کولو اود مخدره موادو په راکړی ورکړي دفساد اودبډی د اخیستلو او رواجولو اود قانون څخه د سرغړونو په سیر اوجریان کی داسی راښکاری چي دغه ډلی اوټپلی کوم چي اوس خپل اړیکی د بین المللی مافیا سره لری لا پسی به نور هم ټینګ کړی اوخپل اقتصادی اومافیایی فرهنګی ریښی ته لا پسی وده ورکړی دغه وطن اوددغه وطن بی وزلی خلکو ته جبران نه منونکی تاوان ورسوی او افغانان د بد مرغیواوناخوالی سره مخامخ کړي ،خما هد ف ددی لیکنی څخه یوائی دا نه دي چی دموضوع په اړه رڼا واچوم بلکه ځما هد ف روښنګری اود پوهاوی دډیوی روښا نه سا تل دی اوبیا په ځانګړی توګه ځما خطاب دافغانستان «۶۰٪» ځوان قشر ته دی چی فرصت دلاسه ورنکړی اودخپل د ند و اود نقش په لرلو سره دافغانستان خوار اوزار اولس ددغه مافیایی ډلی ټپلی له منګلو څخه خلاص کړی اودیوی هوسا افغانستان په لوری خپل هڅی ته دوام ورکړی .

**مافیا یعنی څه؟** ما فیا دجنایتکارانو اوخلافکارانو یوه مخفی شبکه یا انجمن دی چی د هغه اصلی اډه اوتم ځای په ایتا لیا اود متحده ایالاتو په ختیځه برخه کی دي دغه شبکه څو پیړی مخکی د لمړی ځل دپاره دسیسلی (Sicily) په جزیره کی سر راپورته کړ اود نولسمی پیړی ترنیمای مودی پوری سیسلی د با ند نیو یرغلګرو پواسطه سره اداره کیدل ، دغه شبکه له هغه وخت څخه وروسته دخپل تکاملی پړاونو په وهلو سره تر ننه پوری دی موقف ته ورسید کوم چی بین المللی هویت تر لاسه کړ.

**دمافیا تاریخی ریښی او منشا** : دغه مخفی جنایتکار ډلی ته په ایتالیایی ژبه (مافیا) یا کوزانوسترا(cosa nostra) ویل کیږی چی دغه د(مافیا) اصطلاح یا مافیایی غړو ته په اوایلوکی دجنایی یا خلافکاری مفهوم نه ورکول کیدل بلکه دهغه شخص څخه مراد وه یا هغه شخص ته اشاره وه کوم چي هغه پرمرکزی قدرت باندي مشکوک اوبد ګمان وه په نولسم پیړی کی ځنی ددی ګروپونودخپل خوندی سا تلو دپاره د شخصی سرتیرو یا

باډی ګارډ په درلودو او په را مینځته کیدو سره لاس پوری کړل ، او دا ځکه چي دغه مافیایی حلقی ددی دپاره چی دځمکی لرونکو ښخه غضب شوی پیسی خوندی وسا تی دشخصی سرتیرو په درلودلو سره اقدام وکړ اوپه نها یت کی نن همدغه مافیایی ډلی دجنایی اود سیسلی دشخړیزی سازمانونو په نوم سره پیژندل کیږي . له بلی خوا ښخه با ید په ډاګه شی چی د امریکی د متحده ایالاتو مافیا د ایتالیا له مافیا ښخه بیل اومستقل سازمان دی ګر چی دواړه سازمانونه خپل پټ رمزونه اود دسیسو اود چلو ولو کود او اشاری سره سا تی اویوبل ته سره ډیر وفادار اوملګری دي .

**د سیسلی دمافیا ریښی اومنشا** : له پیریو پیریو راهیسی د سیسلی ټاپو وزمه دمدیترانی دبحر دافریقی دوچی دشما ل اود ایتالیاداصلی وچي ترمینځ پروت او دتاریخ په اوږدوکی دخارجی یرغلګرو تر ولکی لاندی پریوتی اودهر یرغلګر ډلی ټپلی په دی ټاپووزمه کی خپل تسلط ساتلی یا نوموړی ټاپویی ترخپل حاکمیت لاندی راوستی دی کوم چی دغه خارچی یرغلګرمشتمل له فنیقیا نو، روميا نو،عربانو، فرانسویا نو اوهسپانویانو ښخه وه .

ددی ټاپو وزمی اوسیدونکي یا بومیان کوم چی د (۱۰۰۰۰) فوټیز مربع جزیره کی ژوند کاوه نوداشغالګرو دښمنانو یا دهمدی ټا پووزمه دنورو مخالفینو له هجوم ښخه د خپل ځان د خوندی سا تلو د پا ره د سا تونکو په ګروپونو وویشل چی وروسته همدغه ګروپونو په فبیلوی او خانواده ګی ګروپونو با ندی مشهور شول ، اودوی پخپله داسی یوسیستم جوړ کړل چی دخپل تصویب کړی شوی قا نون پر بنیا د بی لاری یا له قانونه سرغړونکو ته په مخفی توګه سره جزا ورکول او د بلی خوا ښخه همدغه خلافکار ګروپونه دخپل غضب کړ شوی پیسی یا دغلا کړل شوی پیسو د خوندی سا تلو د پاره چی دځمکی لرونکو دلاس رسی ښخه په آمن کی پاتي شی په شخصی یا خصوصی بنی سره سرتیری او باډی ګارډ ځا نته ونیول نو دهمدی تاریخچي په نظر کی نیولو سره دسسلی مافیا دکورنی اودقبیلوی مجرمینو دیوه انجمن په بڼه مینځ ته راغي .

**ایا تاسی پو هیږي ؟** دسیسلی مافیا یو له هغه ښلور مجرمو شبکو ښخه دی کوم چی همدا اوس په ایتالیا کی میشته دي ، دری نورما فیای شبکی عبارت دی د نیپا ل له کامورا(camorra)، د کالابریا (calabria)د ندانجیتا (Ndrangheta) مافیایی ډ له د پوګلیا (puglia) دسکرا کرونا یونیتا (sacra corona unita ) له ما فیا یی ډلی ښخه .

سره ددی چی ددوی اصلی منشا لا تراوسه نه دی پیژندل شوی اما دمافیا کلمه اصلاْ یو سیسلی –عربی عامیانه کلمه دی کوم چی دهغه معنی عبارت دی له « دقدرتمندانو داستکبار په وړاندی اقدام یا پاڅون» اما د« پنځه کورنی » د کتا ب د مولف ښاغلی سیلیواین راب (Selwyn Raab) په قول سره چی یی ویل ( زیاتیدل – کمیدل او په امریکی کی ددیر زوره ور مافیایی فرمانروا له سره ژوندی کیدل ) تر نولسم پیړی

پوری چا د «مافیوس» کلمه هغو ته چی جنایکار وه نه ارجاع کول بلکه دغه کلیمه یواځی هغه چا ته اطلاق کیدل کوم چی هغه دمرکزی قدرت پر ځواکمن باندی شک لرل . په کال (۱۸۶۰) کی یوه لوبه چی د (زه مافیوس بکرایا "I mafiusi Vicaria ) په نوم یادیده ( دزندان یو قهرمان دسیسلی په زندان کی دیوگروپ زندانیانو په وړاندی کوم چی هغوی دایتالیا دجهان گردی رسوم اورواج سلسله مراتب په نظر کی نیول اود ایتالیا سره مرسته کول اودعامو خلکو له طرفه منل کیدل دمافیا کلمه دایتالیا په ژبه کی ځای پرځای شو اوله همغه وخته دغه کلمه پکار وړل کیږي .

دمافیا راوچته کیدل په ایتالیا کي : دسیسلی ولایت په کال (۱۸۶۱) کی دایتالیا سره یوځای شو یعنی دایتالیا دخا وری یوه برخه وگرځید سره له دی چی په دغه ایالت کی اړدوړ اوهرج ومرج لاخپل لوړی څوکی ته رسیدلی وه او دایتا لیا نوی تشکیل شوی دولت هڅه کول چی حالات نورمال کړی اودخپل دولت په جوړولو کی په ارامه فضا کی خپل هڅی ترسره کړی ،اما د بلی خوا څخه په کا ل (۱۸۷۰) کی رومی مقامات دسیسلی دقبیلوی مافیا څخه وغوښتل چی دهغو سره د رومی محلی متجاوزتبهکارانواو جنایتکارانو په شړلو کی مرسته وکړی او رومی مقا مات به د دی مرستی په عوض ځنی لاری به ولټوی چي دهغه په رڼا کی تا سی ( دسیسلی قبیلوی مافیا) وکولای شی چی د هغه ځای دزمیندارانو څخه خپل باجگیرنی لړی ته دوام ورکړی ، رومی مقامات په دی باندی ښه پوهید ل اوهغه داچی که چیری د سیسلی قبیلوی مافیا د هغو سره دغه کمک تر سره کړی هغو ته دافرصت ترلاسه کیږی چی پر روم با ندی خپل تسلط ته دوام ورکړي او په عین وخت کی رومیا نو له دی څخه ډاریده چی که چیری دغه د سیسلی فبیلوی مافیا فرصت تر لاسه کړی ممکن دی چی په روم کی خپل اقتصادی اوسیاسی منگولی ولگوی اودلته په پراخه اندازی سره فساد اوبدامنی ته لمن ووهی . په هرصورت نوموړی مافیا په سیاسی فساد با ند ی لاس پوری کړ او خلک یی وډاره ول چی دهغو کا ند یدا تور استا ذو ته رای ورکړی چي سیاسی مقامات تر لاسه کړی یعنی هغه استاذی ته کوم چی هغوی بیا دهمدی ما فیا یی ډلی ټپلی ترشا ودریږی اودهغو څخه هر اړخیز ساتنه وکړی دسیسلی مافیا داسی قدرت ترلاسه کړی وه چی حتی دهغه ځای دکاتولیکا نو د کا لیسا پیروان خپل هر اړخیز مرستی دسیسلی دقبیلوی مافیا سره اعلان وکړ اوله هغو څخه وغوښتل چی دهغوی یعنی دکلیسا د موقوفه شتمنی او د هغو ځمکو کوم چی بزگرانو ته په اجاره ورکړل شوی دی سا تنه وکړی.

نوموړی مافیا دخپل قدرت دلمن په غزولو کی له هیڅ هلی ځلی څخه نه ستړی کیدل ، د سیسلی دغه قبیلوی مافیایی ډلی درب (Raab) په قول سره دخپل نوی غړی دوفاداری او د تحلیف د پر ځای کولو دپاره ځانگړی مراسم ونیول او خپل نوی غړی له قسمه تیر کړل چی هغوی ته وفادار پا تي شی د دی مرا سمو څخه عمده مطلب دا وه چی دسیسلی

دغه قبیلوی مافیایی ډلی ټپلی غوښتل ، هغه دودونه او رواجونه کوم چی د سیسلی د تیر سنتی دودونو اود رمزونو انعکاس ورکونکی وی پلی کړی او بله عمده مطلب کوم چی نوموړی مافیا دهغه دتحقق په اړه زیار ایستل هغه دا وه چی خلکو ته ویل چی که چیری د تاسو په مینځ کی کوم واقعه یا جنجال را مینځته کیږی نو د خپل دعوی دحلولو دپاره دولتی مقا ما تو ته مراجعه ونکړی اویا هر پیښه چی ددی جزیری په کوم اړخ کی رامینځته کیږی دهغه د ریشو په پیدا کولو کی ددولت د مقا ما تو اود استاذو سره مرسته ونکړی .

دشلمی پیړی اوله هغه څخه وروسته مافیا : په سیسلی کی د ما فیا دودی نفوذ تردکال (۱۹۲۰) پوری یعنی د بینیتو موسیلنی (Benito Mussolini) په ایتا لیا کی د قدرت دترلاسه کولو پوری دوام درلود ،موسیلنی له دی نه چی دهغه فاشیستی اند یننو اونوی رژیم ته دسلسی مافیا تاوان ونه رسوی دمافیا دمینځه وړلو دپاره ډیر بی رحمانه چلن خپله کړ په هرصورت په کا ل (۱۹۵۰) کی کله چی ددوهم نړیوال جګړی څخه ځنی لوی ساختمانی شرکتونه په سیسلی کی د لویو عمارتونو په جوړونو باندی پیل وکړ له سره خپل سر راوچت کړدسیسلی مافیا دخپل جرمنو اودجنایاتو لمن په نوموړی منطقه کی ډیر پراخه کړ ، ترڅو چی په کال(۱۹۷۰) کی دمخدره موادو د ترافیک په یو لوی لوبغاړی باندي واغوښتل.

دامریکی د متحده ایالاتوما فیا دایتا لیا له مافیا څخه بیل یو مستقل انجمن یا ډلی ټپلی دی اودغه ما فیا یی سازمان په کال (۱۹۲۰) کی کله چی د ممنوعیت په دوران کی ایتالیاوی اوامرګنی کانګسترانو دمشروبا تو دقاچاق په کسب اوکار کی ګډ بریالیتوبونه تر لاسه کړ په قدرت ورسید . دبلی خوا څخه په کال (۱۹۵۰) کی مافیا [ په ایتا لیا کی د «Cosa Nostra» ترعنوان لاندی هغه څه چی مونږ غوښتل ترلاسه شو] دا مریکی په متحده ایالاتو کی په یو راوتلی مقتدر جا نی او جنا یتکا رسازمان باند ی بد ل شو کوم چی دهغه دجنایا تو اود جرمونود فعالیتونو لمن د نړی په سر تا سر کی وغوړید ل. یعنی هغه رنګ جنایاتونه لکه له پور ورکولو څخه بیا ترد ښځی په بدلمنی باندی اخته کول ، تقلب او .... اوهمدارنګه دغه ما فیا یی حلقی په کارګری اتحادیو کی نفوذ وکړ خصوصاً دنیویارک په ښارکی دګرمنت صنعتی ساختما نی کارګری ا تحاد یه کی نفوذ تر لاسه کړل . لکه دسیسلی دمافیا په شان دامریکی مافیایی کورنی دکودونو اودرمزونو دساتلو اود په نظر کی نیولو سره اوهم لوړ پوړی مقاماتو ته د بډی په ورکولو اود خلکو اود رسمی مقاماتو ،تجارانو دکسب خاوندانو په ډاره ولو او په ډیرو نورو اړینو برخو کی دلازم مهارتونو په چلولو سره لوی بریالیتوبونه تر لاسه کړل . ترهغه چی دقانون د پلی کولو ادارات او اجنسی د شلم پیړی په اوایلو کی ونتوانیدل یا اوس هم نی توانیږی چی د دغه ما فیا یی ډلی ټپلی دفعالیتونو او د جرمنو خنډ شی یا یی مخه ونیسی. اګر چه

دامریکی دمتحده ایالاتو اودایتالیا د څارنی او دپیګرد ګډ اجنسی په کال (۱۹۸۰ او ۱۹۹۰) ددی مافیایی ډلی ټپلی د سر ګروپونو او لوړ پوړو چارواکی تر خپل څارنی اوتعقیب لاندی ونیول اویو څه بریالیتوبونه تر لاسه کړل یعنی چی څنی مافیایی مشران یی تر اوږدی مودی پوری په بند کی واچول او هڅه یی وکړل چی دهغوی څخه هغه پټ رمزونو او کودونه کوم چی دهغودارتباط نیولو نبنی نشانی دی ترلاسه کړی . اما اوس دیویشتم پیړی په پیل کی له هغه نه چی ددی مافیایی ډلو ټپلو زیات مشران او دهغو برجسته غړی یا له مینځه وړل شوی یا په اوږدی مودی بند سره محکوم شوی دهغو دفعالیتونو لړی یوڅه کم شوی یعنی دغه مافیایی ګروپونه لکه دتیرو وختونو په شان په قدرت اوپه توان کی نه دي مګر لاتراوسه بیخی له مینځه نه دی تللی .

په افغانستان کی مافیا دودي په حال کي : افغانستان دیوی خارجی منبع اودافغنستان داطلاعاتی خبر رسانی دشبکو په حواله هغه یواځنی هیواد دی چی په کال (۲۰۱۳) کی دمخدره موادو دتولید اود کرکیلنی لمړیتوب ترلاسه کړ،دلته هر چاته داسوال را پیداکیږی چی د(۴۸) هیوادونو دمنظمو نظامی قوتونو په موجودیت سره سره بیا هم ولی دمخدره موادو دمینځ وړلودپاره هیڅ هڅی اومبارزه نه ترسره کیږی اودهغه تولید هر کال اوچت کیږی ، له بلی خوا ټولو خلکو ته څرګند دی چی مخدره مواد په یوه هیواد کی داسی یو سرطانی بلا او وژونکی مواد دی کوم چی دهغه هیواد خلک اوپه تیره بیا ځوانان پری ککړیږی او دهغه سره اعتیاد پیداکوی یعنی هغه نسل چی دهیواد دراتلونکی آبادی معماران دی ، نوپه دی بنیاد سره باید وویل شی چی غربی هیوادونه اودهغو په سر کی انګریزان او امریکایان دافغانستان دمخدره موادو اودهغه د افغانی مافیا دحال په ودی باندې سره لاس یو دی اوپه ګډه سره غواړی چی دغه هیواد دتل دپاره بیرته پاتی شی اودګدایی لاس هغو ته اوږد کړی ، که داسی نه وی نو دغه ننی لوړ پوړی دولتی چارواکی چی تر پرونه پوری دخلکو خیراتونه خوړل ، دهغو په جوماتونو کی دیره وه ، څوړځوکان خوړل ، په دی دومره لنډه موده کی داپیسی اودا ثروت له کومه کړل چی په شیر پوری کی بنګلی جوړوی اوپه دوبی کی افسانوی کورونه اخلی ، خبره بیخی روښانه دی اوهغه داچی ما مخکی ددی لیکنی په سر کی یاده کړ چی مافیا اودهغه هدف دادی چی په ټولنه کی بدې اخیستو ، بی قانونی ، فحشا ، بی امنیتی ، بی پروایی ، لوټماری ته لمن وهی لکه چی اوس مونږ په رڼو سترګو سره ګورو چی په افغانستان کی دمخدره موادو دغه مافیایی ډلی ټپلی دودی په حال کی دی اوتر څو چی دغه بی فرهنګ حلقی اوکړی ددی هیواد څخه ورک نشی دغه هیواد او دهغه خلک به هیڅکله دنیک مرغی مخه به ونه ګوری .

په درناوی